# خبـــــــرپا نـــه

# د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام

۱۱ غبرګولی ۱۳۸۵

## په دې ګڼه کې


ځوان افغان پارلمان د ولسواکۍ په هکله د ځوانانو زدکړې ته سخته پاملرنه کوي ۲

د مشرتابه د روزنې په پروګرام کې لوړ پوړو ملکي دولتي کارکوونکو ته د فساد ضد مبارزې په هکله معلومات ورانديز شول ۲

په جلال اباد کې د خپل خوښې پټې مشورې او وينې کتنې مرکز پرانيستل شو ۲


## د بې وسلې کولو په بهير کې نارينه او ښځو ته په يوه سترګه کتل کيږي

هر هيواد چې د افغانستان په څير د خو لسيزو جګړو او وراني ووينې، بې له شکه د بيا رغونې په هڅو کې خپل ټول بشري ځواک ته اړتيا لري. د افغانستان د نوي پيل پروګرام په تيرو څو کلونو کې خلکو ته د کار موندنې اړتيا ته پام اړولی دی.

د افغانستان د کلتوری شرايطو سره سره چې د معيشت لپاره د ښځو کار په زړه پوري لار نه بولي، ۲۶ ښځې په داسې يو پروګرام کې ثبت شوې چې موخه يې د لومړنيو او منځنيو ښوونځيو لپاره د ښوونکو روزنه ده. دغې روزنې ته ښځې د پخوانيو جنګياليو له کورنيو څخه راغلي.

فريشته وحدت چې ۲۵ کاله عمر لري وايي: ″که څه هم زه له دولسم ټولګي فارغه يم، په داسې ناځرګند برخليک کې مې ژوند کاوه چې نه پوهيدم څه به کوم.″ هغه وايي چې د دې د تره زوی له وسلې سپارلو وروسته د نورو مهارتونو د زدوکولو لپاره په بله پروژه کې خپل نوم وليکه. هغې زياته کړه چې ″ له دغه کورس څخه د خبرېدو وروسته سم لاسي د بې وسلې کولو د پروګرام سيمه ييز مرکز ته د غوښتليک سپارلو لپاره لاړم. زه له هغو کسانو ډيره ډيره مننه کوم چې دغه پروګرام يې برابر کړی دی.″

همايون وفا د بې وسلې کولو د پروګرام سيمه ييز مسؤول وايي چې د هغو کسانو لپاره په اردو او پوليسو کې د خدمت په ګډون له قانوني لارو څخه د ژوندانه د اړتياوو د ګټلو لپاره ډيرې موقع شته چې غواړي خپله وسله وسپاري.

رياض چې ۳۰ کاله عمر لري يو له هغو کسانو څخه دی چې د توپک او باور له ژوند څخه لري ژوند يې غوره کړی او اوس د پنچرۍ له خپل دوکان سره خوښ دی. ده په هغه شپږ مياشتني کورس کې ځان شامل کړ چې په مياشت کې ۱۰۰ ډالره د خپلې د کورنۍ ملاتړ لپاره ورکول کېدل، د کورس له بشپړېدو وروسته نومورې ته د بريليک تر څنګ د هغه د ووړکي دوکان لپاره يو شمېر اسباب او وسايل هم ورکړل شو.



فرشته وحدت د ښوونکو د روزنې يوه برخه واله

## د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام او خصوصي سيکتور په ګډه نوي پيل ته نوې لارې پرانيزي

د افغانستان د نوي پيل پروګرام يو له هغو هر اړخيزو پروګرامونو څخه دی چې د ملګرو ملتونو پرورګرام يې په افغانستان کې پلي کوي. ځرنګه چې له نامه څخه يې ځرګنديږي، دغه پروګرام د پخوانيو جنګياليانو، معلولينو، له پامه غورځېدليو، له خطرې سره مخامخ، لوستو، نالوستو او داسې نورو لپاره د نوي پيل د برابرولو په لار کې کارکوي.

د افغانستان د نوي پيل پروګرام او روشن چې د ګرځنده ټيليفونو د خدمتونو په برخه کې يو برياليی شرکت دی په ګډه متې رانغښتي چې ښځې د دې وړ کړي چې خپله اينده په خپل لاس کې واخلي او د خپل ژوند د تيرولو لپاره په خپله کار وکړي. د دغه پروګرام د ازمېښتي پروژې لپاره لومړی غوره شوي ۲۱ کسيزه ډله د پخوانيو جنګياليانو د کورنيو له غړو څخه جوړه شوې ده.

د پروژې له لومړي پړاو سره سم، په لومړي کال کې به د ورو پورونو د لومړي بانک له خوا هرې ښځې ته ۲۰۰ ډالره پور ورکول کيږي چې له دوه مياشتنی بخښښي دورې څخه وروسته يې بايد په لسو قسطونو کې بېرته بانک ته ورکړي.

د پروژې په دويم پړاو کې به هرې ښځې ته د ۴۵۰ ډالرو په ارزښت د روشن سيم کارتونه پور ورکړل شي، چې دوی يې يوازې پر ښځو پلورلی شي. له دوی څخه به ۴۱۰ امريکايي ډالره بېرته اخيستل کيږي او ۴۰ امريکايي ډالره به دوی ته پاتې کيږي.

## ځوان افغان پارلمان د ولسواکۍ په هکله د ځوانانو زدکړې ته سخته پاملرنه کوي

له تیرو شپږو اونیو راهیسي د پلازمینې د لیسو د لسم، ۱۱م او ۱۲م ټولګي زکوونکي په ۱۰- ۱۵ کسیزو ډلو کې ملي شورا ته د نیمي ورځې لپاره ورځي تر څو د هغو استازو کار وګوري چې د دوی والدینو، ترونو او تروركانو ټاکلي دي.

احمد جاوید پایاب د عامه پوهاوي مسؤول وويل چې د زده کوونکو پارلماني لیدنه کې د ملي شورا ټولې اصلي برخې ان ځانګړې کمیټې هم شاملې دي.

د زده کوونکو د لیدنې لپاره تیار شوي پروګرام کې د ولسي جرګې په عمومي تالار کې نیم ساعت کیناستل شامل دي، چیرې چې دوی د میلمنو د ناستې په ځای کې د ولسي جرګې کار ګوري. زده کوونکي همدارنګه د ملي شورا د ځانګړیو کمېټو او کمېسیونونو د لیدو موقع هم لري، چې څنګه دوی د قانون د مسودې جمله-جمله او پراګراف-پراګراف تر بحث لاندې نیسي. ګل حسن د انصاري د لیسې د دولسم ټولګي زده کوونکي وويل چې "دا د ولس او دولت د ملاقات ځای دی". ده زیاته کړه چې "زه باور لرم چې زموږ شورا به زموږ د هېواد د ستونزو په هواري کې مرسته وکړي". د همدې ښوونځي یو بل زده کوونکي صادق وويل چې غواړي په راتلونکي کې یو ورځ دی هم د ولسي جرګې غړی شي.

میرمن شیرزی وايي چې زده کوونکو ته له لیدنې څخه وروسته یوه دوسیه ورکول کیږي چې رسمي جریده، څو رسالې چې د تقنیني بهیر کړنلارې او میکانیزمونه په کې تشریح شوي او یوه وړه کتابچه لري. هغې شکایت وکړ چې دغو ځیرکو زده کوونکو ته د لا زیاتې معلوماتي ټولګي د برابرولو لپاره کافي بودجه نه لري. د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د مقننه قوې د ملاتړ د پروژې سلاکار پیټر لنډینګ وايي چې " د همدې لپاره موږ دلته یو او هڅه کوو چې ښه والی راولو". دی وايي چې "زه ډیر خوښ یم چې میرمن شیرزی او د هغې ټیم د ښوونځي د ماشومانو د لیدنو په ګډون د ولسي اړیکو د ودې په لار کې مخکښ نقش لوبوي." ښاغلي لنډینګ په دې خپله خوښي څرګنده کړه چې د ملي شورا دارالانشاء له ولس سره د اړیکو اهمیت ته په پام سره په سم



د انصاري لیسې زده کوونکي د مشرانو جرګې په تالار کې

لوري ټینګ ګامونه پورته کوي. هغه په پای کې زیاته کړه چې دی او د مقننه څواك د ملاتړ د پروژې ټیم د اغلې شیرزی او د هغې د ټیم په خوا دي او هڅه کوي چې دوی ته ټول هغه څه برابر کړي چې ورته اړتیا لري.

## د مشرتابه د روزنې په پروګرام کې لوړ پوړو ملکی دولتي کارکوونکو ته د فساد ضد مبارزې په هکله معلومات وړاندې شول

د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ملی خدمتونو د کمېسیون د روزنې پروژې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د فساد ضد مبارزې له ټیم څخه د ۲۰۰۶م د اپریل په لومړیو ورځو کې وغوښتل چې د مشرتابه د روزنې په پروګرام کې د دولت لوړ پوړو ملکی کارکوونکو ته د فساد ضد مبارزې په هکله معلومات وړاندې کړي. د دغې روزنې په هکله اصلاً د کابل په ښار کې د روزنې د وړاندې کولو یوې مؤسسې اینوینټ ته قرارداد ورکړ شوی ؤ. دوی د ملکی خدمتونو د کمیسیون د روزنې د ځانګړې په چوکاټ کې د مشرتابه روزنه ورکوي.

د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام د فساد ضد مبارزې ټیم دغه غوښتنه ومنله او د دغه کار لپاره یې یوه مسوده تیاره کړه چې محتویات یې تر ډیره بریده د ګډون کوونکو پوهې، مسؤولیتونو، دندو او خپلو اړوندو ادارو کې د بډو او فساد د پدېدې پر خلاف مبارزه کې نقش ته په پام سره د دوی له اړتیاوو سره سم برابر شوي وو.

دغه ټیم خپل لومړی پریزینټیشن د اپریل پر ۱۲مه د ملکي خدمتونو ۳۰ لوړ پوړو دولتي کارکوونکو ته وړاندې کړ، چې هم د ګډون کوونکو او هم د روزنې د تنظیموونکو له خوا ډیر خوښ او وستایل شو. د پریزینټیشن په محتویاتو کې د بډو یا فساد او د فساد په خلاف مبارزه کې د ملکی دولتي کارکوونکو د دندو او مسؤولیتونو په هکله کافی معلومات ځای شوي وو. د مشرتابه د روزنې په برخه کې د دغې موضوع اهمیت او نورې والې ته په پام سره، د بډو پر خلاف د مبارزې له ټیم څخه غوښتنه وشوه چې د ملکی کارکوونکو د روزنې په دویم پړاو کې یو بل پریزینټیشن له یو څه زیات تفصیل سره وړاندې کړي.

هر ګډون کوونکي ته د کافي وخت ورکولو له لارې دوی ته د بشپړ ګډون او د نظریاتو او پوښتنو شریکولو زمینه مساعده شوې وه. دوی ته په افغانستان کې د اساسي قانون او هغو تړونونو سره سم چې افغانستان لاسلیك کړي د فساد ضد مبارزې د موجود حقوقي چوکاټ په هکله لنډ معلومات ورکړ شول.

په دغه روزنه کې د عمومي لیوالتیا کچه ډیره لوړه وه او برخه والو د دغې زهرجنې پدېدې پر خلاف د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام هڅې وستایلې. د فساد ضد قانون کافي شمېر کاپی پر برخه والوو وویشل شوې.

## په جلال اباد کې د خپل خوښي پټي مشورې او ويني کتني مرکز پرانيستل شو

په افغانستان کې د ايډس د خپرېدو د مخنيوي لپاره، د عامې روغتيا وزارت پر خپل وخت د وقايوي ګامونو پورته کولو ته ډېر اهميت ورکوي. دغه وزارت د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام په مرسته د خپل خوښي پټي مشورې او ويني کتني يو بل مرکز، دا ځل په جلال اباد کې پرانيست.

دغه مرکز چې د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د باثباته معيشت له پروګرام سره سم د ښاري پراختيا د ډلي له خوا د ۵۰۰۰۰ امريکايي ډالرو په لګښت چې د لابراتوار د معاينې د توکو پيردونه هم پکې شامله ده، په ۸۲ ورځو کې بشپړ شو. دغه ټولې پيسې د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام له سرچينو څخه ورکړل شوي دي.

د جلال اباد دغه مرکز په افغانستان کې د ايډس د خپرېدو ضد هڅو په لار کې د ستر اهميت لرونکی بلل شوی دی. دا چې جلال اباد يو ستر ښاري مرکز دی او ډېر مسافر تري تيريږي، نو د ويني د کتني دغه مرکز د ايچ ای وي په وختي تشخيص کې مهم نقش لوبولی شي تر څو د دغې ناروغی د مخنيوي لپاره چټک ګامونه پورته شي.

که څه هم په رسمي شمېرو کې څرګندېږي چې په افغانستان کې د ايچ ای وي ۵۵ ناروغان دي، خو ځيني مني چې ريښتيني شمېره کېدای شي د ۲۰۰۰ شا او خوا وي.

د روغتيايي چارو کارکونکي وايي چې له دغې ناورغی څخه د وګړو بې خبرې ته په پام سره يو وړه تيروتنه لکه د وينتانو د جوړولو په وخت کې د ناپاکو وسايلو د کارولو له امله د پستوکي ويني کېدل کېدای شي د دغې ناروغی سبب شي.

په جلال اباد کې نرسانو او د روغتيايي چارو کارکونکو ته لا له وړاندې ځايي وګړو په منځ کې د دغې ناروغی د اسبابو په هکله يو څه روزنه ورکړ شوې ده.






دولتي چارواکي، ډاکټران او نور برخه وال د مرکز د پرانيستلو په مرسامو کې



**د لازياتو معلوماتو لپاره:**

**ډومنيک ميډلي، د خبري رسنيو د اړيکو مسوول**
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org

**عزيز الرحمن ګلبهاري، د اطلاعاتو او نشراتو مسوول**
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org